دويمه کچه

storyweaver PRATHAM BOOKS

التعليم فوق الجميع | education above all

# مهمه يادَونه: اقليم باندې څه شوي دي؟



**ليکوال:** بېجال واچهاراجاني
**انځورګر:** ارچنا شري نواسن

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .

ګرانه لوستونکیه،

مونږ یوه ستونزه لرو. یوه ډېره غټه ستونزه. یوه دومره غټه ستونزه، چې دا زمونږ پر ټولې سیارې، ځکمه، باندې اغېزه کوي! دا ستونزه د اقلیم بدلون دی.

زمونږ اقلیم د بدلون په حال کې دی، ځکه چې مونږ ډېر زیات شین کوریز ګازونه او نور ککړوونکي مواد په فضا کې خوشې کوو. اغېزې یې – سیلابونه، وچکالۍ، د تودوخې څپې، توپانونه او داسې نور – په هر ځای کې ټول (ستاسې او زمونږ په ګډون) احساسوي.

خو مونږ کولای شو چې مرسته وکړو! د ونو په ژغورلو سره، د 4Rs (یعني Reduce یا کمول، Reuse یا دوباره کارول، Recycle یا بیاځلې د کارولو وړ ګرځول او Refuse یا انکار کول) په تقیبولو سره، د ژوندانه هر نوعې ته په درناوی سره، او د ګډو شنو عملي اقداماتو په ترسره کولو سره.

ریحانه

(نیم وخته انځورګره،

ټول وخته د ځاروو پالونکې،

څو کرتې د ونو علاج په مرسته

ژغورل شوې ده.)

د ځمکې لپاره،

عبدالله

(بدمزاجه لیکوال چې

د لیکلو هڅه کوي خو

د اقلیم کړکېچ یې پام بل لوري ته اړوي.)

***مهمه یادونه: راځئ چې دا په ګډه وکړو!***

ګرانه پینګوئینه،

ستاسې خوا ته موسم څنګه دی؟
دلته موسم هره ورځ کله څنګه او
کله څنګه وي.

حتی سمندري سپي (سګ لاهو) هم پټېږي.
خو د غرمې ډوډۍ وخت دی. څنګه به دوی پیدا کړم؟
غررمم، غررمم!

په توده مینه،
قطبي مخالف ابږ

*مهمه یادونه: آیا تا په نږدې ورځو کې دې د میناکارۍ یا موزائیک لکۍ لرونکي مورک څخه کوم خبر ترلاسه کړی دی؟*



ښاغلی قطبي مخالف اېږ،

هوا توده ده.
هوا ډېره توده ده.
هوا زښته ډېره توده ده. زه يې
د زغملو توان نه لرم.

بس زما له توانه دا هوا وتلې ده.
بيخي نو نه شم کولای دا ډول هوا وزغمم.
مونږ انديښمن يو.
انديښمن، انديښمن.
انديښمن، انديښمن، انديښمن.
ماهيان لرې تللي دي،
لرې، لرې،
لرې، لرې، او ډېر لرې.
د سترګو پناه، پناه، پناه چې درک يې وکړای شو.


په ډېر تودوالي سره،
پېنګوئين
***مهمه يادَونه: موږکان! د يوې مودې راهيسې نه. اجازه راکړه چې وېې لټوم.***




سلامونه

امم... دلته هوا توده نه ده. بیخي نه ده. آیا کولای شې زمونږ خوا ته تشریف راوړې؟ برررررر... دومره سړه هوا ده چې الوت پکې نه کېږي. (پینګوئینه، ته چرت مه وهه، ځکه چې ته الوتلای نه شې. ***نه شې،*** کنه؟)

هوايي مچوګانې،
الوتونکی (اوسمهال نه) خړلمی موږک (Squirrel)
***مهمه یادَونه، د موزائیک-لکۍ لرونکي موږک د جیک جیک هیڅ څرک نشته دی.***




سلامونه،

باران اوري. په شېبو
شېبو باران!
مونږ څوړند يو.
همداسې يو وضعيت
دی.

مېرى

***مهمه یادَونه: د تعجب خبره ده. نه يوازې موږک، بلکې زما بوره هم ورکه ده. پولیس خبر کړئ.***



غوږ شئ!
ګیلې کول بند کړئ. ستا بوره به ارومرو په هماغه اوبو کې حل شوې وي.
مونږ ته یو څه اندازه باراني وریځې راولېږئ، اورئ؟
په بحر کې ټول تیزابیت ما ته تیزابیت راکوي.
برررړپ!

په بحر کې کاربن په ډېر زیات مقدار کې دی. پهههههررررپ!
زه باید ځآن لپاره یو مناسب پوښ / کونجکه پیدا کړم
مخکې له دې چې هوا ډېره توده شي. یا زما پوښ/کونجکه
ستاسې د بورې په څېر ویلي شي. هسسسسسس!

دا وخت مې چنګاښیت لا پسې زیاتېږي
ګوښه چنګاښ

***مهمه یادَونه: طلایي چونګښه هم نادرکه شوې ده. امکان لري دوی ټول یوځای په رخصتۍ تللي وي؟ داسې یو ځای ته چېرته چې باران اوري. بخ بخ!***

غړم، غړم!


زما ژوند ډېر سرګردانه دی. خوا او شا مې ونې کمې او اوبه لږې دي، او ډېر لږ زړي/تخمونه دي. خو، واه واه، مونږ یو څه اندازه زړي پیدا کړل ځکه چې ابېره مور [شمالي امریکایي (ګرېزلي/Grizzly) اېږ، نه قطبي اېږ] د دغو په پیدا کولو کې ډېره ماهره ده. ما دومره ډېر وخوړل چې ګېډه مې د یوه توپ په څېر ګرده شوې ده.


بیا واوره ووربېده! معمولاً، کله چې واوره اوري، زه او زما کورنۍ په خپل غار کې په خوږ خوب ویده یو. خو مونږ ویده نه شو، ځکه چې واوره په دې موسم کې له وخته ډېره وراندې وشوه. مونږ خپل غار ته په منډه منډه ولاړو چې ویده شو. خو مونږ کافي خواړه نه وو خوړلي. نو، ځکه مونږ بېرته په منډه وګرځېدو چې یو څه نور خوراک وکړو.

اوس مې ګېډه ښه نه ده او زه لا هم سرګردانه یم.
چې د ژمي په خوب ویده شم که ویده نه شم؟

وږی او غوسه، اېږ [شمالي
امریکایي (ګرېزلي/Grizzly)
اېږ، نه قطبي اېږ]

***مهمه یادَونه: کله چې مونږ راویښ شو، زه به د چونګښې او موږک په لټولو کې مرسته وکړم. شپه مو په خیر!***





اوه نېکبختته اېږه [د شمالي امریکا ګرېزلي/Grizzly اېږ، نه قطبي اېږ)،

زمونږ خوا ته په ټول ژمي کې کافي اندازه واوره و نه ورېده.
نو زه اړ شوم چې پورته او ښه پورته وخېژم تر څو واورې ته ځان ورسوم.
خو خواږه مې لاندې په ژورو کې پاتې شول تر څو *خپل* خواړه ترلاسه کړي. نو، زه بیا لاندې کوز شوم، او بیا بېرته پاس راوختم.
بیا کوز شوم او بیا راوختم. آآآآآه

کله چې هوا توده وي، له دومره پرېړ پوستکي سره یو خوا بل خوا منډې وهلو کوښښ کوم. همدا رنګه، په خاوره کې توغړېدل هم هغسې نه دي لکه څرنګه چې په واوره توغړېدل وي.

غمژن،

واورین پړانګ

***مهمه یادَونه: نه مې چونګښه لیدلې او نه هم مورک. تر لږ استراحت کولو وروسته به یې لټه وکړم. اجازه راکړئ چې له زیتوني ریډلی کیشپ څخه پوښتنه وکړم.***




د ځنګل اور---
له ډاره مو منډه کړه، په لوګو کې پټ شولو. لاس او پښې وهونکی، تښتېدونکی حیوان.

آه-واو-ړنګ بنګ-اف-اخ
ما له غرغندې وهونکي اور سره سوک
وهنه وکړه.
پنجه مې وسېځله، لیکلای نه شم

ای غمژنه وارین پړانګه
بخښنه غواړم، هوا ډېره توده ده
چې هایکو ولیکم
شاعرګک د کانګرو بچی

*مهمه یادَونه: کوالا (Koala) د مینې پېرزوینې وړاندې کوي.*




ګراني مشغولې د شاتو مچۍ،

مونږ چېرته روان یو؟
دلته د جهیل اوبه مالګینې دي.
هلته د جهیل اوبه مالګینې دي.
د جهیل اوبه په هر ځای کې مالګینې دي!
روان یو چې د کمو مالګینې اوبو جهیل پیدا کړو.

که څه هم د بریالیتوب لپاره

ډېر هیله من نه یو،

شمالي نرۍ لکۍ لرونکې هیلۍ

مهمه یادَونه: *آیا زیتوني ریډلی کیشپ اوس یو نوي ساحل ته ورځي؟ هغې زما لیکونه ځوابول بند کړي دي.*

*بخښنه غواړم، له چونګښې یا موږک سره ملګرتوب نه لرم.*



بزززززز

زززز

ززز،

په رواني فشار اخته او

خوبوړې د شاتو مچۍ

*مهمه یادَونه: بززززز*



طلايي چونګښې ته

*استوونکي ته دې بېرته ولېږل شي*

د موزائیک-لکۍ لرونکي موږک ته

*استوونکي ته دې بېرته ولېږل شي*

د موزائیک-لکۍ لرونکي موږک ته

*استوونکي ته دې بېرته ولېږل شي*



د موزائیک-لکۍ لرونکي
موږک ته

استوونکي ته دې بېرته ولېږل شي
ساحل ته نور نه ورځي ځکه چې
اوبه ډېرې تودې دي.
د مخته استولو ادرس نشته دی.




انسانانوته

د اقلیم اټل شه: زموږ کور، یعني ځمکې سیارې،
ته یو لیک ولیکه.



**د هند لپاره د طبیعت لپاره نړیوال وجهي صندوق (WWF-India)** د پراتام کتاب *مهمه یادَونه اقلیم بانديې څه شوي دي؟*، چې یو انځوریز کتاب دی، تاییدوي. دا کتاب د پېچلو چاپېریالي ننګونو، لکه د اقلیم بدلون، په هکله د تنکیو مخاطبانو ترمنځ پوهاوی لوړوي. په نني وخت او عصر کې، په کوچنیو ماشومانو کې د چاپېریال او د دې بیولوژیکي تنوع لپاره ارزښت او درناوي ته وده ورکول ډېر اهمیت لري. یوازې او یوازې کله چې هغوی پوه شي، هغوی به د ټولو لپاره د غوره او روښانه راتلونکي د منځته راوړلو په موخه عملي ګامونه اوچت کړي.



## لارښودونکې پوښتنې

1. د اقليم بدلون څه شی دی؟ حيوانات څنګه د اقليم بدلون له امله نيغ په نيغه زيانمن کيږي؟ ستاسې په اند دا څنګه پر انسانانو منفي اغېزه کوي؟
2. د اقليم بدلون له امله هوا، اوبه او خاوره څنګه زيانمن کيږي؟
3. ژمنی خوب څه شی دی او ولې ځينې حيوانات په ژمي کې ويده کيږي؟ آيا دا طبيعي بهير د اقليم بدلون د لاسه اغېزمن کيږي؟
4. ولې طلايي چونګښې، زيتوني کيشپ، او د موزائيک لکۍ لرونکي موږ هغه ليکونه پرانېستل چې دوی ته استول شوي وو؟
5. تاسې به د اقليم بدلون د اغېزو د محدودولو لپاره خپلې کورنۍ او ټولنې ته څه سپارښتنې وکړئ؟